# بسم الله الرحمن الرحیم

# دامریکائیانو او دناټو دځواکونو دجنایتونو په هکله،

# دګرانئ وشریفو خلکوته دخواخوږي پیغام !

*دفراه ولایت دفراه رود دولسوالی دبالابلوک اودګرانئ دکلیو وشهیدانو اودشهیدانو وکورنیوته وړاندی کوم :*

ترهرڅه نه مخکې دپاک خدای« ج » دلوی درباره نه دګران هیوادافغانستان وټولو شهیدانو اوخصوصآ ددی ځوورځومخکې ستری غمیزی دنوموړو سیمو وشهیدانوته دفردوس جنت هیله کوم اوپه الهی رحمتونواوانورونوباندی ټول شهیدان ځلانده اوروښانه غواړم اود الله (ج) وسپیڅلی درګاه ته دعاکوم چې ددی ستری غمیزی هغه کورنۍ چې په دی سیموکښې خپل دکورنۍ غړي ،دوستان ،خپلوان ،سپین ږیري،ځوانان ،ماشومان، ښځۍ اوناریینه یې دیرغلګرواوتیری کوونکودامپریالستی امریکایي ،ایسافي اوناټویي ځواکونوپه ظالمانه،غیرانسانی اوتروریستی بمبارډونو کې دلاس ورکړي دي ،ددوي دهریوحضور ته په ډیر درنښت سره تسلیت وړاندی کوم او ودوي ته دپاک خدای (ج) څخه صبرجمیل غواړم اوددوي دسره کفنی اوسپیڅلی شهیدانوروح دي پاک الله تل ښاد ولري ،بیاهم خدای تعالی (ج) دی ونوموړو اودجګړی ځپلی ګران هیواد ونورو بی ګناه شهیدانوته جنتونه ور په برخه کړی اوددوي دښمنان دی خصوصآدغه پردي امپریالستی امریکایي ،ایسافي اوناټویي یرغلګرځواکونه دی،پاک خدای (ج) په خپلوقدرتونوسره دی د ماتی اومخ توری سره مخامخ کړی ، اوابدی دی وشرموي ،زه په ښکاره اوبربنډه ټوګه اوپه ټینګه سره وایم چې داظالمان ،دایرغلګراووحشتګرځواکونه په خپله ترووریستان دی ،هره ورځ غیروسلوال اوبی ګناه افغانان وژنی ، بی ځایه اوبی موخی بمبارډونه اوعملیاتونه ترسره کوي ،بی ګناه خلک راکشوی اوپه خپلوجیلونوکښې یې ساتی ظلمونه پرباندی کوي اوزموږدهیواد خوار،غریب ،مظلوم اومسلمان اولسونه هره ورځ وژنی اوشهیدان کوي اوبیا وایی چې تیروتنه سوي دی ،نوزما په هاند ترووریستان همدغه په خپله یرغلګراوښکیلاکګرځواکونه دي چې دخپلوژئوپلټیکواوژئواستراتژیکوګټواوموخودپاره زموږهیوادیې ترخپل ښکیلاک لاندی راوستیدی .

زه دخپلو پټمنوهیواد والواووطندارانو په دی سترغم کې ځان شریک بولم اوبیا هم وپاک خدای (ج) ته دعااوزاری کوم چې ددی ستری غمیزی دشهیدانوارواح دی تل ښاد ولري اوددی بی ګناه شهیدانووهری کورنۍ اودشهیدانوخپلوانوته دصبر،حوصله اوزغم هیله کوم اوبیا هم

وپاک خدای (ج) ته خواست کوم چې پاک خدای (ج) دی پر دی مظلوم ،خوار او جګړه ځپلی مسلمان اولس باندی ورحمیږی اویرغلګراوښکیلاکګرامپریالستی امریکایي ،ایسافي اوناټويي ځواکونه دی ناکامه اودپریکړنده ماتی سره مخامخ کړي .

امین یا رب العلمین ،ومن التوفیق

په درنښت: عزیزاحمد خوارمل

# دبلابلوک دګرانئ دکلي وشهیدانو ته !

خدایه ! زما پرخوار اولس داڅونی جوراوجفاده
شیطانی وریځی راغلي دسرواوښکواوس ژړاده

هره خواته دمرګونواوجنازي دي اوس ږغونه
په هرکور، کلی هربڼ کې جوړه ستره واویلاده

کرګسانو دغمونو وزرونه دي خلاص کړی
بی وجدانه دولت رډګوري جوړپرخاوره یې کربلا ده

اوره وي دجنایت بم ،زموږپرکلي پرکورونو
پښتنی سیموته ګوري ،هرځای یې ماتم سرا ده

امریکا ،ناټوځواکونه ، کوي ډېرجنایتونه
زما پرخلکو داغمیزه دتورمخ غلیم له خوا ده

دغاصب دښمن په لاس زاړاوځوان په وینوډوب سو
تربی پته ژوند مړښه یم دامې هوډ دامې غوغا ده

دګرانئ دخلکو ویر دځان ویر بولم «عزیزه»
مرده باد دښمن ته وایم، خپل شهیدته مې دعا ده

عزیزاحمد خوارمل
بیلجیم دانتورپین ښار